# (الف)

*اباکور نشته، له ادي ډارر نشته.

ابا گورد، خورجين يې گورد.

ابا اوبو يووړ، ويل يې اباڅه کوې، غاړې غرونه يې يووړد.

ابې زړد شود، له شوقه ونه لويده.

*اتڼ وهه شير دادد، نن بيا دچرگ شير وادد. (١)

اتنه وزان شې، چې امرالدين ډې ناري کوي. (٢)

* اختر پټ ميړد نه دی.

اختر تير شو، متايې يې هيرد نه شود.

اختر د يود سړی نه دی.

آخر عمر د خوارۍ دی.

اخنبې چې روپۍ شيندي، د کلي ټولې پيغلې به يې خدمت کوي.

اخنبې چې جيب تړلې وې، په خوابنې او خوبنينې يې قدر خورلې وی.

اخور يې جوړ کړ، ويل يې اس به خدای راکړی.

* ادب له بې ادبه زدد کيږی.

(١)- شيروا يوه لهجه ده، چې د بنوروا په عوض ويل کيږی.

(٢)- دا متل د کندهار په خوا کې شهرت لری.

* پسرلی دی ځان اگاه کړه ، ځان ته ژیړه غوا پیدا کړه.
پس له واده څوک سندرې نه وایي.
* پښتون سل کاله پس وار واخیست ، ویل یې چې اوس مې هم تلوار وکړ.
پښن مور شو ، چې پاته یې کور شو.
پښه مې دې پاس وی ، که په خره وی، که په اس وی.
پښې هلته ځی، چې زړه ځی.
پښې لوڅې ښې دی، نه تنگې موچنې.
* پک په پمن پورې خاندی.
پک نه په سر تار لری، نه په چا کار لری.
پکه دادې لا بله سپکه.
پکې سر په خیال کې ، چې میړه یې شاباز خان دی.
* پگړی چې له سره ولویږی، په اوږو تکیه شی.
* پلار یې کړه ، خو په لار یې کړه.
پلار یې گټی ، زوی یې څټی.
پلار یې په اته ، زوی یې په شپیته.
پلار گټلی ، زوی ته هیڅ دی.
* پند یې مه گوره ، ایمان یې گوره.
پنځه گوتې سره برابرې نه دی.
پنځه گوتې په خوله مه منډه.
پنځه چرگانې په یو کور کې ښې دی، نه یو نسواری.

وړی ته چا ویل: څلور څلور څو کیږي؟ ویل یی: اته ډوډۍ.
وړي ته د پانگ پوست سنگکی ډوډۍ ښکاري.
وږ ستر گې خدای نه مړوي.
وړی د ډوډۍ تپهار اوري.
وړی د ملغلرو همیانۍ پیدا کړه، د نینو گومان یې پرې وکړ.
وړی ستر گې، نه مړیږي.
وړی نس، بلا ده.
وړی لره نیمه گوله هم غنیمه دی.
وړی نه یم، قدر غواړم.
وسله هغه ده، چې په لاس درغله.
وسله که سل کاله بار ده، په سخته ورځ په کار ده.
وطن په دوو ستر گو خپل دی، په دوو پردی.
و عاقل ته اشاره دی، کم عقل ته کوتک.
وگټه، پیل وخوره.
وگوره سرې، ترې لاندې واچوه کالې.
ولاړې اوبه، ژر ژړیږي.
ومې بله، ومې تله.
و مه خورې هغه غوړی، چې وباسي مرغیړی.
ونه چې زړه شی، د هرې بلا پرې شپه شی.
وهم دې چیرې، ډب دې چیرې خیژي.
ویشلي وروړ، تربور دی.

